مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ژباړه :عبدالباري جهاني ۲۰۲۰/۱۱/۱۸

# د مان سینګه د زوی کالاسینګه اقرار

## دویمه برخه

د ۱۹۱۷ کال په وروستیو شپو ورځو کي، د هند د لودیاني ښار ته نیژدې د کالاسینګه په نوم یو سیکه ونیول سو چي څو کاله وړاندي په پنجاب کي د برتانوي هند د حکومت له عسکري خدمت څخه تښتېدلی وو. پولیسو له هغه څخه تحقیقات وکړل او د هغه له تحقیقاتو څخه یې ډېر داسي شیان معلوم کړل چي تر دغه وخته دوی ته نه وه معلوم. کالاسینګه په کابل کي د هند د مؤقتي حکومت د مشر راجا مهیندراپراتاپ سره د خپلو اړیکو، د هغه د پټو فعالیتونو، د جرمني، د افغانستان له حکومت، او د صوبه سرحد له پښتنو سره د هغه د اړیکو په باب اطلاعات ترلاسه کړل. د دې تحقیقاتو یوه برخه له افغانستان سره مستقیمه اړه لري. په دې تحقیقاتو کي معلومیږي چي د هند او پښتني علاقو ټولو اوسېدونکو له برتانیې څخه مشترک نفرت درلود. په زړه پوري خبره دا ده چي په دې مبارزه کي مسلمان، سیکه او هندو ټول ګډ کار سره کوي. هندیان، پنجابیان او پښتانه ټول همکاري سره کوي او په دې لړکي د افغانستان د پاچا امیر حبیب الله خان او د هغه د ورور نایب السلطنه نصرالله خان رول هم د یادولو وړ دی. تاسي د کالاسینګه د هغه اقرار ترجمه ګوری چي د هند په رسمي آرشیف کي قید ده. البته ما یې هغه برخي را اخیستي دي چي زموږ له هیواد او له پاکستان سره په پوله کي پرتو پښتنو سره مستقیمه اړه لري. کالاسینګه ته به ښایي پولیسو د اعتراف او ریشتیا ویلو په بدل کي څه وعدې هم ورکړي وې. خو د هغه په اقرار پوري مربوطو مکتوبونو څخه څرګنده ده چي هغه بالاخره اعدام سوی دی. د اقرار خط په پای کي لیکل سوي دي چي دا اقرار د ۱۹۱۸ کال د جنوري پر دیارلسمه نېټه د پنجاب د پولیسو د سرمامور د مرستیال سرداربهادر سوکه سینګه له خوا ثبت سو.

د ګل منصور په نوم یو بل تن هم، چي ویل یې د ډهلي اوسېدونکی دی، په کابل کي اوسېدی هغه اوس په باغ بابر کي هستیږي. فضل ربي هم له همدغه ملا سره دی.
یو بل تن مولوي محمد علي وو چي په کابل کي په یوه ښوونځي کي معلم وو. هغه له ښوونځي څخه وایستل سو او اوس په اسماس کي له مجاهدینو سره دی. یو بل تن د سند مولوي ابراهیم وو چي هغه هم ښوونکی وو او کله چي یې هلته وظیفه ختمه سوه او اوس د ترنګزیو له حاجي صاحب سره دی.
کله چي زه روغ سوم نو مولوي رشید زه مولوي عبدالرزاق ته بوتلم چي په اردو ژبه ښه پوهېدی. ما هغه ته خپل ټول نکل وکړ او د هغو کارونو په باره کي مي معلومات ورکړل چي په آزادو قبایلو کي مي کړي وه. ما هغه ته وویل چي د افغانستان د حکومت لپاره هر ډول خدمت ته حاضر یم. ده راته وویل چي سردار نصرالله خان ته به مي بوزي. څو ورځي وروسته مولوي بشیر زه سردار صاحب ته بوتلم او زما د کارونو او فعالیتونو په باره کي یې معلومات ورکړل. کله چي سردار صاحب زما د کارونو په باره کي معلومات واورېدل نو ډېر خوشاله سو او ماته یې وویل چي په کابل کي په آرامه شپې تېروه. زه له خوني څخه را ووتلم مګر مولوي بشیر هلته پاته سو. سردار صاحب، په هغه ورځ، ماته هیڅ وظیفه را ونه سپارله مګر د ورځي یې دوې روپی تنخوا راته مقرره کړه. وروسته له هغه مولوي بشیر راته وویل چي سردار صاحب وایی ته باید له مهیندراپراتاپ سره وګورې. زه له مولوي بشیر سره، د هغه د لیدلو لپاره، باغ بابر ته ولاړم. مولوي بشیر زه له میهندراپرتاپ سره معرفي کړم او هغه راته وویل چي سبا یې ووینم او زه هم په بله ورځ ورغلم. برکت الله او قاسم بیګ هم هلته ناست ول. ما هغوی ته، په آزادو قبایلو کي، د خپلو فعالیتونو په باره کي معلومات ورکړل. دوی دریو واړو زما زړه ورتوب وستایه او راته وې ویل چي هر وخت د دوی لیدلو ته ورسم.
پنځه تنه جرمني صاحب منصبان، دا وخت، له کابل څخه وتلي ول. زه خبر سوم چي وان هینټیګ او یو جرمنی ډاکټر، د پیکینګ له لاري، جرمني ته تللي دي او وروسته مي له میهندراپراتاپ څخه واورېدل چي هغوی سالم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

رسېدلي دي. يو بل تن جرمنی، د ايراني په جامه کي، د روسي ترکستان له لاري جرمني ته رسېدلی وو. هغه نور دوه تنه، د دوو تنو هنديانو په ملګرتوب، چي يو يې سيکه او هغه بل يې سندی هندومسلمان وو، د ايران له لاري ترکيې ته رسېدلي وه او نور يې زه په احوال خبر نه سوم.
زه کله کله راجا مهيندراپراتاپ ته ورتللم او هغه د ځان په باره کي ماته دغه معلومات راکړل: دی د هتراس راجا وو اود جيند د مهاراجا له خور سره يې واده کړی وو. دی د برتانيې له واکمنی سره مخالف وو. يو ځل د کوم ښورښ د لمسونکي په تور ونيول سو مګر حسابدار وژغوری. د جنګ د پيل په ورځو شپو کي له هند څخه فرانسې ته ولاړ ځو هلته د جنګ جبهه وګوري. له فرانسې څخه سويس زرلينډ ته ولاړ او هلته يې د سردار سُوندر سينګه ماجيتيا له ورور سردار امراو سينګه سره وکتل. مهيندراپراتاپ له هغه څخه وغوښتل چي د برتانيې پر ضد کار وکړي او له دې طلايې فرصت څخه کار واخلي. امراو سينګه ورته وويل چي دی کور او عيال لري او په دغه راز فعاليتونو کي برخه نه سي اخيستلای. ميهندراپراتاپ له سويس زرلينډ څخه برلين ته ولاړ او هلته يې د جرمني له پاچا قيصر ويلهلم سره وکتل. ميهندراپراتاپ د جرمني پاچا ته وويل چي دلته د دې لپاره راغلی دی چي د برتانيې سره په جنګ کي له جرمني سره مرسته وکړي او د هغه په خدمت کي هر کار ته حاضر دی. قيصر ورته وويل چي هند ته ولاړ سي او د هغه هيواد ولايتونه د برتانيې په مقابل کي ولمسوي او که دی له جرمني سره مرسته وکړي او برتانيه ماته وخوري نو دی ژمنه کوي چي نيپال به يو ببل هيواد کړي. قيصر دغه راز ژمنه وکړه چي که ده هند فتح کړ نو هلته به جمهوريت جوړ کړي. ضمناً قيصر د هند د اوسېدونکو مشرانو په نامه يو څو ليکونه او د نيپال د پاچا لپاره يو کتاب راکړ. مهيندراپراتاپ په برلين کي په يوه هوټل کي اوسېدی او هلته يې د هرډايال چاټو پاړيا او اجيت سينګه سره وليدل. قيصر دوی ته امر وکړ چي د افغانستان امير ته ورسی او هغه د برتانيې پر ضد جنګ ته وهڅوی.
ميهندراپراتاپ د هيات مشر وټاکل سو. ده له برلين څخه، د جرمنيانو په ملتيا، د ترکيې پر لور حرکت وکړ. په ترکيه کي يې د انوربيګ پاشا سره وکتل او هغه د افغانستان د امير لپاره يو ليک ورکړ. پاشا دغه راز قاسم بيګ له هيات سره ملګری کړ چي کابل ته سفر ورسره وکړي. برکت الله، چي امريکا او جاپان ته يې سفرونه کړي وه، او په ترکيه کي دې ته منتظر وو چي د يوه جعلي ايراني پاسپورټ په وسيله افغانستان ته ولاړ سي، هم له دې هيات سره ملګری سو. ځيني اېرېدي، چي د ترکيې له پوځ سره ملګري سوي او يا په جنګ کي نيول سوي وه، هم د جمادار ميرمست په مشرتوب، له هيات سره يو ځای سول. دې ټولي ډلي له ترکيې څخه د ايران له لاري د افغانستان پر لور حرکت وکړ او پر دريو ډلو ووېشل سول. له دوی څخه يوازي ډله، چي پنځه تنه جرمنيان، قاسم بيګ، برکت الله او مهيندرا پراتاپ وو، هرات او وروسته کابل ته ورسېدل. د هغو نورو دوو ډلو سرنوشت تر اوسه نه دی معلوم. جرمني هيات له امير سره وکتل او له هغه څخه يې وغوښتل چي د برتانيې پر ضد جنګ اعلان کړي. امير ورته وويل چي هغه بالکل تيار دی خو په دې شرط چي جرمني او ترکيه، له برتانيې سره د جنګ لپاره، خپل پوځيان افغانستان ته واستوي. ده وويل په اوسنيو شرايطو کي دا تقريباً غير ممکنه ده چي له هغوی څخه مرسته ترلاسه کړو ځکه چي تر کابل پوري ټولي لاري تړلي دي. ده وويل چي که په اوسنيو شرايطو کي دی جنګ اعلان کړي نو مخکي له هغه چي د جرمني څخه مرسته ورته را ورسيږي د برتانيې او روسي پوځونه به د ده هيواد پايمال کړي. سردار نصرالله خان جرمنيانو ته وويل چي که حتی د جرمني د پوځ يوه وړه برخه هم کابل ته ورسيږي امير به د برتانيې پر ضد جنګ اعلان کړي. ده زياته کړه چي د افغانستان حکومت هر وخت له ترکيې او جرمني سره دوستانه اړيکي درلودلي دي.
امير د جرمني له هيات څخه وغوښتل چي هغه جرمنيان او اطريشيان چي په روسيه کي له اسارت څخه کابل ته تښتېدلي دي تشويق کړي چي د افغانستان په پوځ کي کار وکړي. ده وويل چي دغه ډول مهاجرين به په خپل پوځ کي د روزونکو په توګه استخدام کړي. نصرالله خان، په زړه کي، د جرمنيانو ملګری دی. مهيندراپراتاپ ماته وويل چي هغه آزاد قبايل چي د نصرالله خان په هدايت کار کوي هم د برتانيې پر ضد پاځېدلي دي؛ او تيار دي چي د برتانيې پر ضد جنګ اعلان کړي او يوازي فرصت ته منتظر دي. د جرمني او استريا بنديان چي مخکي مي اشاره ورته وکړه اوس هم په کابل کي دي او ما ليدلي دي. مهيندراپراتاپ دغه راز ماته وويل چي که هند د برتانيې له استعمار څخه خلاص سي نو د امير حبيب الله خان زوی غواړي چي د افغانستان د جمهوريت رئيس سي او د برتانيې قلمرو به تر اباسين پوري د افغانستان خاوره سي. مهيندراپراتاپ د« دولت موقت هند » په نوم يو کتاب هم لري او ده ويل چي د انګرېزانو له ايستلو څخه وروسته به دا جمهوريت تاءسيس سي. په دې کتاب کي هم دا ښودله سوې ده چي تر اباسين پوري ټوله خاوره به د امير د قلمرو برخه سي. په دغه کتاب کي دغو کسانو لاسليکونه کړي دي: مهيندراپراتاپ، برکت الله، ثناءالله، مولوي بشير، متراسينګه، ما هم په ګورموکي رسم الخط خپل نوم، د تيجاسينګه، په نامه وليکی. مهيندراپراتاب يو تعليم يافته سړی دی او وايي چي د کابل امير بايد د برتانيې په مقابل کي وجنګيږي او په هغه صورت کي به يقيناً چي هند آزادي ترلاسه کړي.
زه په کابل کي وم چي متراسينکه او خوشی محمد د روسيې له لوري راستانه سول. خوشي محمد د روسيې په خاوره کي تبي نيولی وو او دوی مجبور سول چي بيرته را وګرځي. مهيندراپراتاپ ماته وويل چي دا داوړه کسان، يې د سردار نصرالله خان سره په مشوره، د جاپان په نيت لېږلي وه چي د جاپان حکومت د برتانيې پر ضد وهڅوي. دوی بايد د روسيې په خاوره کي د سايبيريا د اورګاډي په واسطه جاپان ته رسېدلي واي. دوی د افغان مقاماتو څخه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریَ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پاسپوټونه ترلاسه کړي وه او هیله یې درلوده چې د روسیې له لارې به جاپان ته ورسیږي ځکه چې روسان، جاپانیان او افغانان ټول دوستانه اړیکې سره لري. دوی ته هدایت ورکړه سوی وو چې خپل راز له روسانو سره شریک نه کړي. مترا سینګه ما ته وویل چې دوی په روسي ترکستان کې د روسیې له ویسرا سره وکتل او د پاسپوټ غوښتنه یې ورڅخه وکړه مګر هغه پاسپوټ ورنه کړ. ده وویل چې، د روسیې د پوستې له لارې یې، د جاپان صدراعظم او نورو آدرسونو ته لیکونه ولېږل. دوی د خوشي محمد د ناروغی له کبله بیرته کابل ته ستانه سول.
دوه تنه ترکان په کابل کې استخدام سوي وه. مهیندراپراتاپ، د سردار نصرالله خان سره په مشوره، هغه دوه تنه یاغستان ته واستول چې قبایل ولمسوي. میرمست او د قنبرخېلو د علاقې جمادار اپرېدی او څو تنه نور اپرېدي پښتانه هم له هغوی سره ولېږل سول. دغه دوه تنه ترکان د مهیندراپراتاپ په هدایت روان سوي وه مګر هغوی ته ویل سوي وه چې خپل نیت به مامورینو ته نه وایی او مهیندراپراتاپ په هغوی پسې داسې آوازه ګډه کړه چې ګواکې تښتېدلي دي. له کابل څخه، د دوی له حرکت څخه څو ورځې وروسته مهیندراپراتاپ، قاسم بیګ او برکت الله زما څخه وغوښتل چې تیراه ته ولاړ سم او وګورم چې په هغه سیمه کې د ترکانو فعالیت څه نتیجه ورکړې ده. دوی دغه راز ماته هدایت وکړ چې په سرحد کې د برتانیې د پوځیانو په باره کې تحقیق وکړم. زه له کابل څخه تیراه ته روان سوم او د میرمست وراره او د شینوارو د علاقې یو پټان پاینده خان هم راسره ول.
مهیندراپراتاپ، برکت الله او قاسم بېګ، له کابل څخه زما تر حرکت مخکې، یو مخفي هیات د ترکیې له لارې ایران ته واستاوه. زه په هغه پیغام چې دوی ته ورکړه سوی وو نه یم خبر.
له کابل څخه زما تر روانېدلو یوه ورځ مخکې، دغه کسان آزادو قبایلو ته روان سول:
مولوي بشیر، عبدالحق، دوه شاګردان، نادرشاه، محمدعلي او شیخ سندهي.
له کابل څخه تیراه ته په لاره کې مې د اچین په کلي کې د شینوارو د سیمې حکیم حاجي صاحب ولیدی. ما هغه ته ټوله کیسه بیان کړه او له هغه څخه مې وغوښتل چې د برتانیې پر ضد جنګ وکړي. ده ژمنه وکړه چې که اپرېدي او نور قبایل جنګ ته تیار وي دی به هم په جنګ کې برخه واخلي. ده ما ته یو راه بلد هم راکړ. زه په تیراه کې، د قنبر خېلو په علاقه کې، د میرمست کورته ورغلم. دواړه ترکان هلته اوسېدل. میرمست راته وویل چې اته لس زره تنه یې جنګ ته تیار کړي دي او ټول دې ته منتظر دي چې د کابل د امیر له خوا وسلې او مهمات ورته ورسیږي. د میرمست له کور څخه روان سوم او د میدان په علاقه کې یوه سیکه ته چې شیرسینګه نو میدي ورغلم او له هغه څخه مې غوښتنه وکړه چې تر کوهاټ پورې یو راه بلد راکړي.... په کوهاټ کې مې په یوه ګوردواره کې دوې شپې تیرې کړې او راته معلومه سوه چې برتانوي حکومت هلته چنداني قواوې نه لري. ما ته نور مشخص معلومات ترلاسه نه سول. په هغه سیمه کې مې د ملامموزي په کور کې لس دوولس شپې تیرې کړې او د خپلو نورو ملګرو سره مې په هغه علاقه کې خلک ولمسول او ټولو ته مو ویل چې د ترکیې سلطان له انګرېزانو سره جنګ اعلان کړی دی او دا پر هر مسلمان باندې فرض ده چې د انګرېزانو په مقابل کې په جنګ کې برخه واخلي. ټولو خلکو ویل چې که امیر وسلې او مهمات ورته را ولیږي دوی ټول جنګ ته تیار دي او وسلې باید تر همدغه اوړي پورې ورته ورسیږي. تر کانو ماته دوه لیکونه راکړل چې یو د مهیندراپراتاپ په نامه وو او بل لیک د مهیندراپراتاپ له لارې نصرالله خان ته لیکل سوی وو. زه کابل ته ولاړم. خپل ټول نکل مې مهیندراپراتاپ ته وکړ او لیکونه مې ورو سپارل. مهیندراپراتاپ راته وویل چې له ده سره ملګری سم. په هغو شپو ورځو کې دغو کسانو له سردارنصرالله خان سره وکتل:
مهیندراپراتاپ، قاسم بیګ، برکت الله، خوشي محمد، عبیدالله، مولوي ګل منصور او د متحدو ولایتونو یو مولوي.
زه له دوی سره ملګری سوم او حاجي عبدالرزاق هم هلته وو. زه پوه نه سوم چې دوی څه سره ویل خو وروسته مهیندراپراتاپ ټول بیان راته وکړ. ده ماته وویل چې له نصرالله خان څخه یې پوښتنه وکړه چې امیر، آزادو قبایلو ته، د وسلو او مهماتو لېږلو ته تیاردی کنه. مهیندراپراتاپ راته وویل چې د نصرالله خان جواب دا وو چې امیر پر آزادو قبایلو باندې حساب نه سي کولای او وسلې او پوځیان نه سي ورلېږلای. ده وویل چې تر څو پورې د ترکیې او جرمني پوځیان له امیر سره مرستې ته راونه رسیږي امیر نه سي کولای چې د برتانیې په مقابل کې پوځي اقدام وکړي.
وروسته ډله سره متفرقه سوه. برکت الله او قاسم بیګ د ایران له لارې ترکیې ته روان سول. ګل منصور یاغستان ته ولاړ او زه او مهیندراپراتاپ روسي ترکستان ته روان سولو. زه او هرنام سینګه او زموږ یو نوکر جیون سینګه له مهیندراپراتاپ سره په سفر کې ملګري وو. د سفر ټولې اسانتیاوې، نوکران، محافظین او د لارې لګښتونه د افغانستان حکومت راته برابرول. دوهمې ډلې ته، چې برکت الله، قاسم بېګ، یو ترکی او یو ایرانی ورسره وو، هم ټول لګښتونه او اسانتیاوې په دغه ډول د افغانستان حکومت برابرول. دواړو ډلو څلور منزله یو ځای سفر وکړ. تر څو چې موږ د مزارشریف او د قاسم بېګ ډله د هرات خواته وخوځېده.
په مزار شریف کې خبر سولو چې عبدالقادر او ډاکټر مترا سینګه، په روسي ترکستان کې، پټک حصار ته تللي دي. مزار شریف د افغانستان خاوره ده او موږ هلته پنځه میاشتې تیرې کړې. مهیندراپراتاپ ته هم د ډاکټرمتراسینګه او هم د پټک حصار د حاکم روسي جنرال لیکونه رسېدل. مهیندراپراتاپ یو ځل عبدالقادر او ډاکټرمتراسینګه ته ولیکل چې راسي او له ده سره د آمو د سیند پر دې غاړه د افغانستان په خاوره کې ووینې او له دوی څخه یې وغوښتل چې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ده بې مشورې له پتک حصار څخه ونه خوځيږي. څو ورځې وروسته د ډاکټر متراسينګه او د هغه د ملګري کالي را ورسېدل او په هغو کې د دريو سوو پونډو يو چيک وو چې پر يوه جاپاني بانک حواله وکړه سوې وه او دا هغه چيک ووچې مهيندراپراتاپ ډاکټر متراسينګه ته ورکړی وو.
د پتک حصار جنرال مهيندراپراتاپ ته ليکلي وه چې ډاکټر متراسينګه او عبدالقادر، د ده له خوښې پرته، د روسيې داخل ته خوځېدلي دي او دی نه دی خبر چې هغوی ته به څه ور پېښه سوې وي. مهيندراپراتاپ ماته وويل چې پتک حصار ته ولاړ سم او د هغوی احوال معلوم کړم. زما سره يې د دوني چند په نوم يو راه بلد هم راسره کړ چې په دغه علاقه کې يې تجارت کاوه او تصادفاً مزار شريف ته راغلی وو او اوس هم د خپل کار و بار لپاره پتک حصار ته روان وو. ما ته په پتک حصار کې جنرال وويل چې د متراسينګه او عبدالقادر په سرنوشت نه دی خبر او په اوسنی وضع کې خو مهيندراپراتاپ د روسيې پاسپوټ هم نه سي ترلاسه کولای. مهيندراپراتاپ، په دې برخه کې، د سردار نصرالله خان څخه مرسته وغوښته او دغه راز يې د روسيې له لاري چين ته د تللو اجازه ورڅخه غوښتې وه....
مهينداپراتاپ، هرنام سينګه د هند خواته واستاوه. د هغه ماموريت مخفي وو او زه يې په هدف پوه نه سوم. تر پنځه لسو ورځو سختو سفرونو وروسته خان آباد ته ورسېدلو او مهيندراپراتاپ چې لا يې هم د روسي جنرال سره مکاتبه درلوده ماته وويل چې د يوه مهم ماموريت لپاره هند ته ولاړ سم. مهيندراپراتاپ ماته پنځه لس پاکټونه راکړل چې پر ځينو باندې په انګليسي او پر ځينو باندې په هندي آدرسونه ليکل سوي وه. ده راته وويل چې دا خطونه د هند د مشرانو لپاره دي چې ده ته قيصر ورکړي دي. دا ليکونه به يا محمدعلي او يا په چمرکنډ کې د سند شيخ ته ورسوې.
ده دغه راز ماته د هند د صدراعظم لپاره يو ليک او د نيپال د پاچا لپاره هغه کتاب راکړ چې قيصرورته رالېږلی وو.
ده دغه راز ماته د نيپال د صدراعظم لپاره يو شفاهي پيغام هم راکړ.
تر دغه ځايه پورې د کالاسينګه او د مهيندراپراتاپ فعاليتونه د ښتنو په علاقه او په افغانستان پورې اړه لري. کالاسينګه د مهيندراپراتاپ ليک او کتاب نيپال ته ورساوه. له نيپال څخه د راستنېدلو په لاره کې د برتانوي هند پوليسو ونيوی او دا اقرار يې ورڅخه اخيستی دی چې د زياتو معلوماتو درلودلو له امله يې تاريخي اهميت، اوس هم، له لاسه نه دی ورکړی.
له دې څخه وروسته NO.1992-16-S.B. په دغه نمبر يو مکتوب، د پنجاب د حکومت د سکرتر له خوا د هند د خارجي او سياسي څانګې دفتر ته په سيمله کې لېږل کيږي. د مکتوب نېټه د ١٩١٨ کال د مارچ د مياشتې ٢٨ ده.
ښاغليه، ماته هدايت راکړه سوی دی چې تاسي ته احوال درکړم چې د ګورنر مرستيال د شمال لوېديځې صوبې د اعلی کميشنر په غوښتنه پيشنهاد کوي چې که د هند حکومت اعتراض نه لري نو کالاسينګه دې د نورو تحقيقاتو لپاره د هغه ايالت د جنايي پلټنو څانګې ته ولېږل سي. خو د ګورنرمرستيال غواړي چې له دې تحقيقاتو د کېدلو څخه مخکې په دې پوه سي چې ايا نور داسې څه هم سته چې د هند حکومت يې روښانېدلو ته ضرورت لري.
د دې په جواب کې په خارجي او سياسي څانګه کې د هند د حکومت د سکرتر مرستيال د پنجاب د حکومت سکرتر ته د ١٩١٨ کال اپرېل پر ١٨ ليکي :
ښاغليه، ماته هدايت راکړه سوی دی چې ستاسي د محرم مکتوب د رارسېدلو څخه اطمينان درکړم چې د کالاسينګه په باره کې مو رالېږلی وو.
داسې ښکاري چې کالاسينګه په کل کې په ډېره ښه طريقه سپيني او ريښتيا خبري کړي دي او د هغو دسيسو په برخه کې چې ده رول پکښي درلودلی دی موږ ته ډېر ارزښتمن اطلاعات راکوي. زه بايد ووايم چې د هند حکومت د هغو افسرانو څخه چې دغه تحقيقات يې کړي دي مننه کوي.
د هند حکومت پېښور ته، د نورو تحقيقاتو لپاره، د کالاسينګه پر لېږل کېدلو باندې هيڅ اعتراض نه لري چې د شمال لوېځې صوبې د مرکزي استخباراتو اداره يې کوي. ځيني داسې ټکي ښايي وي چې پوځي مقامات به غواړي په هغه باره کې له کالاسينګه څخه نور تحقيقات هم وسي مګر دا ترتيب په پېښور کې په ښه توګه نيول کېدلای سي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ